## مطبوعاتي اعلاميه

# خلافت به پرته له دې چې پر بېوزلو د مالياتو ظالمانه دروند بار واچوي، د دولت لپاره به په لوړه پېمانه عايدات برابروي

د دولت اقتصادي ډلې د ۲۰۱۹م کال د مې په ۲٦ مه د پيسو له نړيوال صندوق (IMF) سره د هوکړې له مخې د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو د بوديجې د پروپوزلونو لپاره د ماليې کچې وټاکلې. د ۲۰۱۹م کال د مې په ۲۵ مه دولت اعلان وکړ، چې دوی به په راتلونکې دوره کې د مالياتو کچه ۵٫۵۵۰ تريليونو ته پورته کړي، چې دا اندازه د اوسنۍ کچې په پرتله ۳۵٫۴ سلنه لوړ والی ښيي. د مالياتو اوسنۍ کچې د خلکو ملاوې ماتې کړې، دا ۳۵ سلنه لوړوالی به وضعيت نور هم خراب کړي. د توليداتو په بيه کې ډېروالی به له خلکو څخه د خوراکي توکو، پوښاک او درملو د اخيستو توان هم واخلي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

له شک پرته، همدا وخت دی چې زموږ د خراب اقتصاد لپاره د پيسو له نړيوال صندوق پرته يوه بله حل لاره ولټوئ. د رسول الله صلی الله عليه وسلم امت بايد يوازې خپل سپېڅلي دين ته مخ واړوي، هغه دين چې د نبوت پر منهج خلافت په واسطه پلی کېږي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿كَيْ لاَ يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ﴾**

[حشر:۷]

***ژباړه:*** *... تر څو چې هغه يوازې ستاسې د بډايانو تر منځ لاس په لاس نه شي ....*

د اسلام د عايداتو سيستم په بې ساري توګه له دې څخه مخنوی کوي، چې شتمني دې يوازې د يو څو کسانو په لاس کې وي. يعنې هڅه کوي چې د خلکو په منځ کې د حرکت په حال کې وي او د بېوزلو او اړمنو پر اوږو بار نه وي. خلافت به د دې پر ځای چې پر تنخوا او عايد لرونکو کسانو د مالياتو دروند باور واچوي، له هغو کسانو څخه به خپل ماليات لاسته راوړي چې په پرېمانه توګه د ځمکنيو او سوداګريزو عايداتو خاوندان وي. دا عايدات به له ځمکوالو څخه د خراج او له سوداګرو څخه د زکات په توګه راټولېږي.

خلافت پر ځای د دې چې د شخصي زورواکو د ګټې لپاره له مصرفوونکو څخه د کال سلګونه بیلیونه روپۍ راټولې کړي؛ انرژي او کانونه به عامه شتمني وګرځوي او له دې لارې به عوام د خپلو لګښتونو لپاره ډېر عاید ترلاسه کوي. د ۱٫۵ تریلیونو رپیو د برابرولو پرځای چې په سود ورکول کېږي، خلافت به د دولت له خزانې څخه د سود دا ظالمانه کړنلاره له منځه یوسي او له بیت المال څخه به له سود پرته پور ورکوي.

خلافت به پر شرکتونو هغه اسلامي قوانین پلي کوي، چې پرمټ به یې د سترو دولتي صنعتي سرمایو لکه: لویو فابریکو، ودانیو او ټرانسپورټي شرکتونو د خصوصي کولو مخه ونیسي او دا به د دولت لپاره د عایداتو لویې سرچینې ګڼل کېږي. خلافت به په مستقیمه توګه له نظامي او سیاسي رهبرانو لکه: مشرف، کیاني، نواز او زرداري څخه بیلیونونه غلا شوي ډالر بېرته واخلي او د محاکمه کولو اوږده ډرامه به یې پای ته ورسوي.

که چېرې بیا هم په بیت المال کې د اړتیا د پوره کولو لپاره په کافي اندازه شتمني نه وي، خلافت به یوازې په دغه حالت کې د مسلمانانو پر هغو شتنیو د بېړني حالت مالیات ولګوي، چې د دوی له اړتیاوو څخه به زیاتې وي. له هغه کسانو څخه به هېڅ مالیه نه اخیستل کېږي چې د ژوند له اړتیاوو څخه زیات مالونه نه لري، بلکې د دوی د ژوند ښه کولو لپاره به نوره هڅه هم کېږي. نو ایا دا هغه وخت نه دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې سره سم اسلامي خلافت بیا تاسیس شي؟ ایا دا هغه وخت نه دی چې مسلمانان د دنیا او اخرت د بریا لپاره د هغه څه د حاکمیت او پلي کولو هڅه وکړي، چې الله سبحانه وتعالی را نازل کړي؟

**حزب التحریر ولایه-پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق، کال د رمضان ۲۲ مه**

**۲۰۱۹م، کال د مې ۲۷ مه**

**د صدور ګڼه: ۶۰/ ۱۴۴۰**

